**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

سلام خان ۲۰۱۲/۰۶/۰۷

# د مسموم کېدو اصلي لاملین په ګوته شول



په تېرولسو کلونو کې ځو ځو ځله د نجونو پر ښوونځیو بېلابېل بریدونه شوي دي خو تر اوسه هیڅ ډلې ددغو کړنو مسؤلیت په غاړه نه دی اخیستي له هغو دجملې څخه په تخار کې په شاوخوا یوه میاشت کې د نجونو په لیسو او ښوونځیو کې شپږ ځلې زده کوونکي مسمومي شوي دي په دی هکله وروسته له ډیرو څیړنو اومعلوماتو دجون په شپږمه نیټه دملي امنیت عمومي ریاست چارواکو  په یوه مطبوعاتی ناسته کی په ډاګه کړه چې دهېواد زده کوونکو خصوصا  د تخار په ولایت کی دښځینه زده کوونکو په مسموم کېدو کې دسیمې ځارګري اداري او وسله وال مخالفین لاس لري دیاد ریاست ویاند لطف الله مشعل په کابل کې د یوې خبري ناستې پر مهال دغه څرګندوني وکړي او زیاته یې کړه چې د تخار ولایت امنېتي ځواکونو تېره ورځ په دغه ولایت کې ښځینه زده کوونکو د مسموم کېدو په تړاو ۱۵ تنه نیولي دي نوموړي ویلی دی چې نیول شوو کسانو کې د دیاد ولایت لپاره د وسله والو طالبانو لخوا نومول شوي مرستیال والی، یو وسله وال طالب قومندان، ښځینه زده کونکې، د پوهنې ریاست کارکوونکي، دښوونځي تحویل دار، یو ملا امام او یوشمېر نور کسان چې دوسله والو طالبانو سره یې تړاو درلود شامل دي، مشعل دا په ښکاره توګه په ډاګه کړه چې د سیمې استخباراتي کړی، په تېره بیا د پاکستان آی ایس آی په دې قصیو کې لاس لري. دوی غواړي چې په افغانستان کې د پوهنې د پرمختګ مخه ونیسي ،هغه زیاته کړه چې په یادو ښوونځیو کې ښځینه زده کونکو دغه مسمومونکی توکي دپنځوس زره افغانیو په بدل کې دتخار ولایت ښوونځیو ته وړي وو ،نوموړي په یو شمېر ولایتونو کې دزده کوونکو په مسموم کېدو کې د وسله والو طالبانو لاس نه درلودل رد کړه او زیاته یې کړه وسله والو طالبانو د دې لپاره چې په خلکو کې د لا ډیرې کرکې وړ و نه ګرځي د ښونځیو سوځولو او د زده کونکو په مسموم کېدو کې خپل لاس لرل رد کړه او په دې اړه یې مخکې له مخکې اعلامیه خپره کړه، پداسې حال کې چې یادې ډلې د سیمې د ځارګرې ادارې په امر د ملاداد الله محاذ او د جندالله ډله جوړه کړه، یادې ډلې په عملي بڼه د ښوونځیو په سوځېدو او د زده کوونکو په مسموم کېدو کې لاس لري لطف اله مشعل وایي د ملي امنیت ادارې د پوهنې وزارت د اندېښنو له کبله نه غوښتل چې دا خبر له خبري رسنیو سره شریکه کړي ،د پوهنې وزرات سپارښتنه هم همدا وه چې د زده کوونکو د مورال د ټېټېدو د مخنیوي لپاره باید دغه موضوع د رسنیو له لارې خپره نه شي. د دوی دا وړاندیز مثبت وو، نو ځکه موږ هم دا کار ونه کړ. خو دا ځل خبره ډېره لویه شوه او د یو ښوونځي د زده کوونکو پسې د بل ښوونځي زده کوونکي مسموم شول او آن د یوه ولایت په څو ښوونځیو کې دا پېښې رامنځ ته شوې نو موږ مجبور شولو چې په دې برخه کې ګام پورته کړو، سره له دې چې ښایي د پوهنې وزارت خوښ نه وي ،د مشعل په خبره هغه مواد چې د افغان زده کوونکو په مسمومولو کې کارول کیږي له قبایلي سیمې میرانشا، څخه افغانستان ته رااستول کیږي.

ولی طالبانو یو واربیا په ښوونځیو کې د زهرجنو موادو په شیندلو کې هر راز لاس لرل رد کړل، ویې ویل چې له هر هغه عمل څخه، چې شرعاً ناروا او ناجایز وي، په کلکه ډډه کوي او د وړو ماشومانو مسمومول کاملاً یو جنایت او د ماشومانو په وړاندې قساوت بولي د طالبانو له لوری دا څرګندونی  وروسته له دې کړه دی چې د افغانستان د ملي امنیت ریاست  طالبان او پاکستان د نجونو زده کوونکو په مسمومولو تورن کړل، مګرم دسیاسی چارو ګڼ شمیر څیړونکی وایی څرنګه چې د طالبانو د واکمنۍ په موده کې نجونې له زده کړو محرومې وې او په جنوبي ولایتونو کې اوس هم د طالبانو تر اغېز لاندې سیمو کې د نجونو زده کړې نشته، نو ډېر خلک ګومان کوي چې د هیواد په شمالي ولایتونو کې به هم د نجونو په مسمومولو کې طالبان لاس لري.

له بل پلوه د پوهنې وزارت تدریسي معین صدیق پتمن پدې ورستیوکې په یو شمېر ښوونځیو کې زده کونکو  مسموم کېدل د وسله والو طالبان کار وباله، چې موخه یې د رواني جنګ پرمخ بیول او نجوني دزده کړې څخه بې برخې کول دي،نوموړي زیاته کړه چې دبنمنان باید پدې پوهه شي چې نور دوی د هیواد زده کونکو د زده کړې خنډ کېدای نه شي، ځکه افغانان نور پدې پوهېدلي دي چې ببله زده کړې خپل کار پرمخ نه شي بیولای.

پای


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ